بسم الله الرحمن الرحیم

قــوه قضائیه

# جریده میــــزان

د سترې محکمې کاري څرګندویه خپرونه

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

یکشنبه ۶ لړم ۱۴۰۳ هـ ش | ۲۴ ربیع الثانی ۱۴۴۶ هـ ق | ۲۷ اکتوبر ۲۰۲٤ م | مسلسله شمېره (۸۰)

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله یې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.

تفسیر کابلی، ج ۲ ، ص ۱۳۰۳

## د جنوب لوېديځ زون د تميز عالي رياست مفتشينو د هرات ولايت له محاکمو او زندانونو څخه لیدنه وکړه

د جنوب لوېديځ زون د تميز عالي رياست او د سترې محکمې د قضائي معاونيت د محترم مقام په هدايت د قضائي پلټنې يوه پنځه کسيز پلاوي چې الحاج مفتي محمد (عبدالله)، مفتي محمد اسلام، الحاج مولوي اخترمحمد (نعماني)، الحاج مفتي محمد (عمري) او مولوي عبيدالله په کې د مسلکي غړيو په توګه دنده لرله، د روان ۱۴۴۶ هـ ق کال د ربيع الاول مياشتې په ۱۰ مه نېټه د هرات ولايت د محاکمو د تېرو فعاليتونو د څېړنو په موخه ياد ولايت ته سفر وکړ.

د قضائي تفتيش ياد پلاوي د سفر او ليدنې په پيل کې د هرات ولايت د مرافعه او ښاري محاکمو له محترمو رئيسانو سره وکتل، په دې ليدنه کې يې د محاکمو د ظرفيت لوړولو او معياري کولو په اړه خبرې وکړې.

د ليدنې په دوام ياد پلاوي د خپل کاري پلان له مخې د هرات د مرافعه او ښاري محکمې اړوند ديوانونو، د ولسواليو د ابتدائيه محاکمو او هرې ولسوالۍ له زندان، د وثايقو آمريت او حقوقو آمريت څخه په جلا جلا ډول ليدنه وکړه.

ياد پلاوي د څارنې بهير په ترځ کې د محاکمو د قضائي، اداري او مالي چارو هر اړخيزه پلټنه وکړه، د محاکمو د قضائي او اداري پرسونل د سلوکي او مسلکي اړخونو معلومات يې واخيستل او د چارو د سمون په برخه کې يې ورته لازمي لارښوونې وکړې.

د قضائي تفتيش پلاوي د محاکمو اړوند شته ستونزې، کاري خنډونه او لوژستيکي نيمګړتياوې له ځان سره وليکل او د ليدنې په وروستيو کې يې د ستونزو د حل، خنډونو د له منځه وړلو، د شته نيمګړتياوو د اکمال په اړه د هرات مرافعه محکمې د رياست له مقام سره تفاهمي ناسته وکړه او ځينې ستونزې يې په جلا جلا توګه ورسره شريکې کړې.

دغه پلاوي د څارنې او ليدنې په دوام د ياد ولايت او د ولسواليو له مسؤولينو، علماء کرامو او قومي مشرانو سره ناستې وکړې او د محاکمو د فعاليتونو د لا ښه پرمختګ او د ځينو اړونده ستونزو د حل په موخه يې د هغوی نظرونه واورېدل.

ياد پلاوي د هرات ولايت د محاکمو په وړاندې د شته ستونزو دقيقه او هر اړخيزه څېړنه وکړه.

د قضائي تفتيش د څارنې او پلټنې پلاوي ياد له لاسته راوړنو ډک سفر د ۱۴۴۶ هـ ق کال د ربيع الثاني مياشتې په (۱۰) مه نېټه پای ته ورسېد.

## خلاصهٔ گزارش راپور اجراآت کاری ماه ربیع الاول (۳) سال ۱٤٤٦ هـ ق ریاست عالی تمیز مرکزی ستره محکمه

ریاست عالی تمیز مرکزی ستره محکمه طی ماه ربیع الاول سال ١٤٤٦ هـ ق اجراآت ذیل را انجام داده‌است:

۱: به تعداد (۸۰۰) جلد دوسیه از محاکم و مراجع مربوطه غرض اجراآت به این ریاست واصل و قید وارده گردیده بود،از آن جمله به تعداد (٦٩٤) جلد دوسیه بعد از اجراآت این ریاست (٥٤٠) دوسیه غرض تمیز طلبی به دیوان‌های پنج‌گانه ارسال شده، به تعداد(۸۱) جلد دوسیه متفرقه به محاکم و مراجع مربوطه ارسال گردیده، (٤٧) جلد دوسیهٔ حقوقی و (٢٦) جلد دوسیهٔ جزائی غرض تطبیق از اندارج خارج به محاکم و مراجع مربوطهٔ آن صادر شده‌است و (١٠٦) جلد دوسیهٔ محکمهٔ خاص و غیر خاص تحت اجراآت قرار دارد.

۲: به تعداد (٥٦٩) قطعه مکتوب از محاکم و مراجع مربوطه به این ریاست واصل، قید وارده و تحت اجراآت قرار گرفته‌است، از جمله به تعداد (٤٥٧) قطعه مکتوب بعد از اجراآت این ریاست از کتاب صادره خارج به محاکم و مراجع مربوطه ارسال شده‌است و (١١٢) قطعه مکتوب تحت اجراآت قرار دارد.

۳: به تعداد (١٠٧٢) قطعه عرایض از طرف اصحاب دعاوی به ریاست عالی تمیز مرکزی تقدیم، ثبت و مورد رسیدگی قرارگرفته‌است، که به تعداد (٩٤٠) قطعه عریضه بعد از احکام این ریاست به غرفه تسلیم داده شده‌است؛ تا برای عارضین تسلیم داده‌شود و به تعداد (١٣٢) عریضهٔ غیر مرتبط مسترد گردیده‌است.

٤: به تعداد (٧٣٦٣) مراجعین غرض اخذ معلومات به غرفهٔ معلوماتی این ریاست مراجعه نمودند که در رابطه به موضوع شان معلومات لازم داده شده‌است.

٥: به تعداد (٢٢٨٤) مراجعین با رئیس صاحب ریاست عالی تمیز مرکز ملاقات و مشکلات شان حل گردید و تعداد دیگر شان را هدایت به حل مشکل شان داده‌است.

٦: رؤسای (٥) دیوان این ریاست به تعداد (۱۷۲) دوسیه را جهت هدایت و مشورت با رئیس صاحب ریاست عالی تمیز شریک ساختند که از جمله (١٦٠) دوسیه تائید و (۱۲) دوسیه هدایت بر غور دوباره داده شده‌است.

۷: به تعداد (۱۴۱) جلد دوسیه را مفتی صاحبان تمیز مرکز همرای رئیس صاحب ریاست عالی تمیز مرکز شریک نموده‌است؛ از جمله (۷۹) آن تائید و به تطبیق ارسال شده‌است و به تعداد (۶۲) جلد دوسیه مسترد و غرض فیصلهٔ شرعی به محاکم خاص مربوطه ارسال گردیده‌است.




## د کابل ښار د سندونو او وثيقو د ثبت شپږو آمریتونو په دوو اونیوکې (۱۹۷۵) بېلا بېلې وثيقې اجرا کړې دي

د کابل ښار د سندونو او وثيقو د ثبت شپږو آمریتونو په دوو اونيو کې له (۱۴۴۶/۳/۱۵هـ ق څخه تر ۱۴۴۶/۳/۳۰هـ ق نېټې پورې (۱۹۷۵) بېلا بېلې وثيقې اجرا کړې دي؛ چې جزئيات يې په لاندې ډول دي:

**۱- د سندونو او وثيقو د ثبت لومړۍ حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت لومړۍ حوزې په دوو اونيو کې (۱۲۱) نکاح خطونه، (۲۳) زوجيت خطونه او (۶۲) نورې بېلا بېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۲- د سندونو او وثيقو د ثبت دويمه حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت دويمې حوزې په دوو اونيو کې (۲۳۴) نکاح خطونه، (۱۵) زوجيت خطونه او (۵۰) نورې بېلا بېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۳- د سندونو او وثيقو د ثبت درېيمه حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت درېيمې حوزې په دوو اونيو کې (۲۶۲) نکاح خطونه، (۲۹) زوجيت خطونه او (۱۰۸) نورې بېلا بېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۴- د سندونو او وثيقو د ثبت څلورمه حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت څلورمې حوزې په دوو اونيو کې (۲۷۴) نکاح خطونه، (۲۱) زوجيت خطونه او (۷۹) نورې بېلا بېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۵- د سندونو او وثيقو د ثبت پنځمه حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت پنځمې حوزې په دوو اونيو کې (۳۷۸) نکاح خطونه، (۱۹) زوجيت خطونه او (۵۹) نورې بېلا بېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**۶- د سندونو او وثيقو د ثبت شپږمه حوزه:**

د سندونو او وثيقو د ثبت شپږمې حوزې په دوو اونيو کې (۱۶۹) نکاح خطونه، (۱۶) زوجيت خطونه او (۵۶) نورې بېلا بېلې وثيقې اجرا کړې دي.

**په نبوي دوره کې د ځينو قاضيانو يادونه:**

**۵- عتاب بن اسيد** رضي الله عنه

**لومړۍ برخه**

اصلي نوم يې عتاب، د اسيد زوی، د ابي العيص لمسی، هغه د اميه، هغه د عبد، هغه د عبد مناف، هغه د قصي، هغه د کلاب هغه مره زوی دی، د قريشو له قبيلې او په قوم اموي دی، چې اسم کنيه يې ابو عبدالرحمن او ځينې ويلي چې ابو محمد وو.

د مکې د فتح په ورځ په اسلام مشرف شو او رسول الله ﷺ کله چې حنين ته روانېدی، د مکې مسؤول يې دی وټاکی.

او ځينې وايي: چې نبي کريم ﷺ معاذ بن جبل رضي الله عنه مکې کې پرېښود، تر څو د مکې اوسېدونکو ته دين ور زده کړي او عتاب رضي الله عنه يې هغه وخت وټاکی کله چې له طائف څخه را ستون شو او رسول اللهﷺ ورته وويل:« اې عتابه! آيا پوهېږې چې ما څه او پر چا وټاکلې؟ ما د اللهﷻ پر مخلوقاتو ته وټاکلې، که چيرې ماته تر تا ښه سړی معلوم وای، نو ما به هغه پر دوی ټاکلی وای».

او هغه مهال چې رسول الله ﷺ دی مسؤول وټاکی، عمر يې شل نيم کاله وو او د هجرت په اتم کال د ده په مشرتوب خلکو حج ادا کړ او مشرکينو هم په خپل دود سره حج ادا کړ او ابو بکر صديق رضي الله عنه بيا د هجرت په نهم کال حج ادا کړ، نو ځينې وايي: چې په اسلام کې (د حج) لومړنی امير ابوبکر صديق رضي الله عنه دی او ځينې وايي: چې عتاب رضي الله عنه دی.

اخذليک: تتمة النظام، ٤٧ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## په کندهار ولایت کې یوه متهم ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کندهار ولایت د مرافعه محکمې د جزا دیوان د پریکړې په اساس یوه تن ته چې پر غلا متهم و؛ په ۱۴۴۶/۴/۷هـ ق نېټه د مرافعه محکمې په انګړ کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

د جزا دیوان یاد متهم پر دوه کاله تنفیذي بند او ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړی و؛ چې یاد حکم د جنوب لوېدیځ زون د تمیز عالي مقام له تائید وروسته پر متهم تطبیق شو.

د یادې تعزیري سزا د تطبیق په موخه جوړې شوې غونډه کې د مرافعه محکمې عمومي رئیس، د مرافعه محکمې د جزا دیوان رئیس، قضائي غړو، اداري کارکوونکو، مراجعینو او عامو هېوادوالو ګډون درلود.

## په لغمان ولایت کې درېیو مجرمینو او یوه متهم ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د لغمان ولایت د مرافعه محکمې اړوند ښاري ابتدائیه محکمې د جزا او عامه امنیت دیوانونو د پرېکړو په اساس؛ یو کس ته د غلا په تور، د دوو ښځو په ګډون دریو مجرمینو ته د نامشروع اړیکو او له کوره د تېښتې په جرم د روان ۱۴۴۶ هـ ق کال د ربیع الثاني میاشتې په ۱۳ مه نېټه په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

یادو دیوانونو یو متهم پر دوه کاله تنفیذي بند او ۳۰ دُرو تعزیري سزا، لومړۍ مجرمه پر درې کاله تنفیذي بند او ۳۹ دُرو تعزیري سزا، دویمه مجرمه پر شپږ میاشتې تنفیذي بند او ۳۹ دُرو تعزیري سزا او درېیم مجرم پر درې کاله تنفیذي بند او ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړی و.

یاد حکمونه د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر مجرمینو او متهم تطبیق شول.

د تعزیري سزا د تطبیق په موخه جوړه شوې غونډه کې امارتي مسؤلینو، علماء کرامو، مراجعینو او عامو هېوادوالو ګډون درلود.

## په کونړ ولایت کې دوو مجرمینو او شپږو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کونړ ولایت د مرافعه محکمې د جزا دیوان، د ښاري ابتدائیه محکمې د جزا دیوان او شیګل ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د پرېکړو په اساس د یوې ښځې په ګډون اتو (۸) کسانو ته چې پر لواطت، غلا او د کوره پر تېښته متهم وو؛ په ۷/ ۴/ ۱۴۴۶هـ ق نېټه په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

د یادو مجرمینو او متهمینو له جملې څخه دوه مجرمین پر ۲ ـ ۲ کاله تنفیذي بند او ۳۹ دُرو تعزیري سزا، لومړی متهم پر درې کاله تنفیذي بند او ۲۰ دُرو تعزیري سزا، دوه متهمین پر اووه ـ اووه میاشتو تنفیذي او ۲۰ ـ ۲۰ دُرو تعزیري سزا، څلورم متهم پر پنځلس ورځې تنفیذي بند او ۱۵ دُرو تعزیري سزا، پنځم متهم پر یو کال تنفیذي بند او ۲۰ دُرو تعزیري سزا او وروستی متهم پر ۱۶ ورځو تنفیذي بند او ۱۰ دُرو تعزیري سزا محکوم شوي وو.

پر یادو مجرمینو او متهمینو د تعزیري سزا د حکم د تطبیق پر مهال د محاکمو مسؤلینو، د کونړ والي، امنیه قوماندان، د علماوو شورا استازو، د ادارو مسؤلینو او سلګونه هېوادوالو ګډون درلود.

## په خوست ولایت کې دوو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د خوست ولایت د ځاځي میدان ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د پرېکړې په اساس دوو کسانو ته چې پر لواطت متهم وو؛ په ۱۱/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه په عام محضر کې تعزیري سزا ورکړل شوه.

ابتدائیه محکمې د متهمینو له ډلې یو متهم پر یو کال او شپږ میاشتې تنفیذي بند او ۳۵ دُرو تعزیري سزا او دویم متهم په یو کال تنفیذي بند او ۳۰ دُرو تعزیري سزا محکوم کړی و؛ چې یاد حکم د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته پر متهمینو تطبیق شو.

د تعزیري سزا د تطبیق په موخه جوړې شوې غونډه کې د مرافعه محکمې عمومي رئیس او مل پلاوي، د یادې ولسوالۍ قضائي، نظامي، اداري مسؤلینو او عامو هېوادوالو ګډون درلود.

غونډه د قرآن کریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د امر بالمعروف ریاست محتسب او د عامه امنیت دیوان سرپرست د موضوع اړوند وینا وکړه.

د غونډې په دوام د مرافعه محکمې رئیس د موضوع په اړه تفصیلي خبرې وکړې، د یادې پرېکړې پلي کول یې د قانون حاکمیت او د شرعي حدودو د تطبیق لپاره یو مهم ګام یاد کړ.

غونډه د تعزیري سزا له تطبیق وروسته د دعا په ویلو پای ته ورسېده.

## په میدان وردګ ولایت کې دوو مجرمینو او درېیو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د میدان وردګ ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې او د دایمیرداد ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د پرېکړو په اساس د روان ١٤٤٦ هـ ق کال د ربیع الثاني میاشتې په ۱۰مه او ۱۱مه نېټه د یوې ښځې په ګډون پنځو کسانو ته د غلا او نامشروع اړیکو په جرم په عام محضر کې تعزیري سزاګانې ورکړل شوې.

د یادو کسانو له ډلې دوه تنه د ښاري ابتدائیه محکمې لخوا د نامشروع اړیکو په جرم په یوه_یوه میاشت تنفیذي بند او ۲۵_۲۵ درو تعزیري سزا او درې تنه د دایمیرداد ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې لخوا د غلا په تور په (۲۵) درو تعزیري سزا محکوم شوي وو؛ چې یاد حکمونه د مرافعه محکمې او د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته تطبیق شول.

د تعزیري سزا د تطبیق په موخه جوړې شوې غونډې د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوې؛ ورپسې د مرافعه محکمې د جزا دیوان رئیس مولوي نور احمد (احمدي)، د جهادي مدرسي استاد مولوي احمدالدین، د ښاري ابتدائیه محکمې د عامه امنیت دیوان رئیس مولوي عبدالبصیر (عمري) او د علماوو شورا غړي مولوي محمد الله د تعزیر، حدودو او قصاص په اړه هر اړخیزې ویناوې وکړې.

یادې غونډې د تعزیري سزا له تطبیق وروسته د دعا په ویلو پای ته ورسېدې.

## د غزني د مرافعه محکمې لپاره نوی رئیس او مرستیال؛ د غزني زون د نظامي محکمې لپاره نوی رئیس او قاضي معرفي شول

د روان ۱۴۴۶ هـ ق کال د ربیع الثاني میاشتې په ۱۲مه نېټه د غزني ولایت د مرافعه محکمې د نوي رئیس محترم مولوي عزیزالله، د مرافعه محکمې د مرستیال مولوي عین الله، د غزني زون د نظامي محکمې د نوي رئیس مولوي عبدالبر او د غزني زون د نظامي محکمې د قاضي مولوي نجم الله د معرفت غونډه وشوه.

په دې موخه جوړه شوې غونډه کې د سترې محکمې د نظامي محاکمو مرستیال محترم شیخ خیرجان (خیرخواه) صاحب، د غزني مرستیال والي، امنیه قوماندان، مستوفي، د مرافعه، ښاري او نظامي محاکمو قضائي غړو او د نورو ګڼ شمېر امارتي ادارو مسؤلینو ګډون درلود.

غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د مرافعه محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس مولوي محمد مبین (الطاف) راغلو مېلمنو ته ښه راغلاست ووایه او زیاته یې کړه، تغیر او تبدیل د نظام یو اصل دی، موږ د اسلامي امارت د غړو په حیث مکلف یو چې د مشرانو د امر اطاعت وکړو، چې څنګه مو د مشرانو لزوم دید وي موږ ورته لبیک وایو.

په دې غونډه کې د سترې محکمې نظامي مرستیال محترم شیخ خیرجان (خیرخواه) خبرې وکړې وویل، اسلامي نظام د الله تعالی له لوري یو ستر نعمت دی، دا نعمت شکرانه غواړي او شکرانه یې داده چې په اخلاص سره د خپل مظلوم ملت خدمت وکړو.

محترم شیخ خیرجان صاحب د اسلامي امارت د ټولو مسؤلینو پر همغږۍ او یووالي ټینګار وکړ او خوښي یې څرګنده کړه چې د غزني ولایت د ادارو ترمنځ همغږي موجوده ده.

د غونډې په دوام د نظامي محکمې قاضي مفتي میرسید سند سعید وویل، غزني ولایت کې ښه همغږي موجوده ده، ټول مسؤلین د اصولو د مراعاتولو برخه کې یو له بل سره همکاري کوي.

دغه راز د غزني مرستیال والي وویل، موږ د خپل وس او توان موافق د محاکمو پرېکړې عملي کوو.

ورپسې د سترې محکمې نظامي مرستیال محترم شیخ خیرجان (خیرخواه) صاحب د مرافعه او نظامي محاکمو نوي مسؤلین په رسمي ډول معرفي کړل.

د غونډې په وروستیو کې د مرافعه او نظامي محاکمو نویو رئیسانو خبرې وکړې وویل، تر خپله وسه به د خلکو ستونزو او غوښتنو ته پر خپل وخت رسېدنه کوو.

غونډه د دعا په ویلو پای ته ورسېده.

## د کابل ولایت مرافعه محکمې د وثیقو د اصلاح کمېسیون د روان ۱۴۴۶ هـ ق کال په لمړۍ ربعه کې د (۱۲۷) وثیقو د تصحیح قرارونه صادر کړي دي

د کابل ولایت مرافعه محکمې د وثیقو د اصلاح کمېسیون د ۱۴۴۶ هـ ق کال په لومړۍ ربعه کې له (۱۴۴۶/۱/۱ څخه تر ۱۴۴۶/۳/۳۰ هـ ق نېټې) پورې د (۱۲۷) بېلابېلو وثیقو د اصلاح قرارونه صادر کړي دي.

یاد کمېسیون د ټولو هغو وثیقو د تصحیح لپاره د سترې محکمې عالي مقام د هدایت په اساس جوړ شوی چې مخکې د کابل ولایت په ټولو محاکمو کې ترتیب شوي وي او د یادو وثیقو د ترتیب پر مهال په سمه توګه نه وي ډکې شوې؛ یا هم د وثیقو د ذی النفع شخص په نورو اسنادو کې د تغیراتو په راتګ سره د یاد شخص وثیقه هم تصحیح ته اړتیا ولري.

په دغه کمېسیون کې د یادو وثیقو د تصحیح لپاره د جوړشوي طرزالعمل د هدایت سره سم غونډه تر سره کیږي او د وثیقې په اړه له بېلابېلو اړوند ادارو څخه بشپړ معلومات ترسره کیږي، تر معلوماتو وروسته د وثیقې د تصحیح قرارونه صادروي.

یاد کمېسیون په اونۍ کې یو ځل د مرافعه محکمې محترم عمومي رئیس په مشرۍ غونډه ترسره کوي او یادو وثیقو ته په نوبت رسېدنه کوي.

## محاکم ولایت غور طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۴۳) دوسیه، به تعداد (۱۲۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجرآات قضائی محاکم ولایت غور، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، محکمهٔ نظامی زون غور و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۱۵/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۴۲) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۰۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۵۸) دوسیه فیصله شده، (۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۸۹) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۴) دوسیه فیصله شده، (۱۲) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت غور به تعداد (۱۲۴) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## محاکم ولایت تخار طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۵۷۲) دوسیه، به تعداد (۶۲۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت تخار، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۳/ ۱۴۴۶هـ ق الی ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۶هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به تعداد (۳۵۰) دوسیهٔ حقوقی مورد رسیدگی قرار گرفته‌است. از آن جمله در رابطه به (۱۸۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۲۵) دوسیه فیصله شده،(۴۴) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به تعداد (۲۲۲) دوسیهٔ جزائی مورد رسیدگی قرار گرفته‌است. از آن جمله در رابطه به (۹۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۱۴) دوسیه فیصله شده،(۱۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به تعداد (۶۲۴) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د ننګرهار ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۵۱۵) دوسیو ته پر رسیدنه سربېره، (۱۲۶) وثیقې هم اجرا کړې دي

د ننګرهار ولایت مرافعه محکمې، وثایقو، ښاري ابتدائیه محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له (۲۰/ ۳/ ۱۴۴۶هـ ق څخه تر ۵/ ۴/ ۱۴۴۶هـ ق) نېټې پورې (۵۱۵) دوسیو ته رسېدنه کړې او (۱۲۶) وثیقې یې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۱۵۰) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۱۲) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۵) دوسیې فیصله شوې، (۲۵) دوسیې مکتوبي اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۲۵۰) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۷۶) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۷۴) دوسیې فیصله شوې، (۲۱) دوسیې مکتوبي اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په تجارتي برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۵۹) تجارتي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۴۵) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۹) دوسیې فیصله شوې، (۸) دوسیې مکتوبي اجرا شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د ننګرهار ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۱۲۶) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم غزنی طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۶۴۸) دوسیه، به تعداد (۵۹۹) وثایق نیز اجرا نموده است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت غزنی، دواوین محکمهٔ مرافعهٔ، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری، محکمهٔ نظامی زون غزنی و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۳/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۵۱۸) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۲۰۹) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۱۰) دوسیه فیصله شده، (۹۹) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه های دیگر تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۲۱۴) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۹۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۱۵) دوسیه فیصله شده، (۱۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و متباقی دوسیه های دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت غزنی به تعداد (۵۹۹) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د پکتیا ولایت محاکمو په یوه میاشت کې د (۴۳۴) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۵۷) وثیقې هم اجرا کړې دي

د پکتیا ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، د پکتیا زون نظامي محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې د ۱/ ۳/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټې پورې د (۴۳۴) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۵۷) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۲۴۵) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۳۹) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۷۸) دوسیې فیصله شوې، (۴۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۱۹۴) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۵۵) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۰۵) دوسیې فیصله شوې، (۱۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د پکتیا ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۵۷) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د میدان وردګ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې د (۲۴۳) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۴۴۹) وثیقې هم اجرا کړې دي

د میدان وردګ ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې د ۱/ ۳/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټې څخه ۳۰/ ۳/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټې پورې (۲۴۳) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۴۴۹) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۱۹۱) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۹۲) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۵) دوسیې فیصله شوې، (۶۵) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۶۴) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۷) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۸) دوسیې فیصله شوې، (۳) مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په تجارتي برخه کې:**

د (۱) دوسیې په اړه قضائي قرار صادر شوی، (۲) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

د وثیقو برخه کې:

د میدان وردګ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۴۴۹) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د بلخ محاکمو په دوو اونیو کې د (۶۴۱) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۴۶۹) وثیقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولایت مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې، د بلخ زون نظامي محکمې او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې د ۱/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټې څخه ۱۴/ ۴ / ۱۴۴۶ هـ ق نېټې پورې (۶۴۱) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۴۶۹) وثیقې هم اجرا کړې دي، چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۴۲۵) حقوقي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۳۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۱۴) دوسیې فیصله شوې، (۶۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۲۴۰) جزائي دوسیې واردې شوې، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۹۳) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۹۱) دوسیې فیصله شوې، (۴۱) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۴۶۹) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت کندز طی دوه هفته علاوه بر رسیدگی به (۳۷۸) دوسیه، به تعداد (۷۸) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت کندز، دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق الی ۱۵/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۲۷۷) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۶۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۰) دوسیه فیصله شده، (۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۳۶) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده، در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۶۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۷۶) دوسیه فیصله شده، (۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌مانده دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت کندز به تعداد (۷۸) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

سرپرست مسؤول مدير: مولوي عبدالرحيم (راشد)
اديتور : جوادالله (جاهد)
ډيزاين: حميدالله (راسخ)

لااله الا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندويه خپرونه
په مياشت کې درې ځله چاپيږي

## د کابل ولايت د حقوقو رياست په يوه مياشت کې (۱۵۵۳) دوسيو او عرض پاڼو ته رسېدنه کړې ده

د سترې محکمې حقوقو عمومي رياست اړوندکابل ولايت د حقوقو رياست په يوه مياشت کې له (۱۶/ ۲/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر ۱۶/ ۳/ ۱۴۴۵ هـ ق) نېټې پورې (۱۵۵۳) دوسيو او عرض پاڼو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئيات يې په لاندې ډول دي:

**د عرض پاڼو په برخه کې:**

د کابل ولايت د حقوقو رياست په يوه مياشت کې د مدني، فاميلي او سوداګريزو دعواوو په برخه کې (۷۴۲) عرض پاڼو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۲۸) عرض پاڼې اصلاح او ابرا شوې، (۲۴۹) عرض پاڼې محاکمو ته لېږل شوې، (۶۸) عرض پاڼې نورو ادارو ته راجع شوې، (۳۹۷) عرض پاڼې حفظ شوې او پاتې عرض پاڼې تر اجراآتو لاندې دي.

**د دوسيو په برخه کې:**

د کابل ولايت د حقوقو رياست په يوه مياشت کې د مدني، فاميلي او سوداګريزو دعواوو په برخه کې (۸۱۱) دوسيو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه (۳۶) دوسيې تطبيق شوې، (۲۷۲) دوسيې محاکمو ته لېږل شوې، (۱۵۵) دوسيې نورو ادارو ته راجع شوې، (۳۴۸) دوسيې حفظ شوې او پاتې دوسيې تر اجراآتو لاندې دي.

## د قضائي تفتيش عمومي رياست مفتشينو د بغلان ولايت له محاکمو او مرکزي زندان څخه ليدنه وکړه

د سترې محکمې د محترم مقام په هدايت د قضائي پلټنې يو تاکل شوي پلاوي د محترم مولوي شمس الله (احدي) په مشرى، چې مولوي عبدالاحد (حماد) او مولوي عبدالله (ذکي) په کې د غړيو په توګه دنده لرله، د روان ۱۴۴۶ هـ ق کال د ربيع الاول مياشتې په ۲۳ مه نېټه د بغلان ولايت د محاکمو د تېرو فعاليتونو د څېړنو په موخه ياد ولايت ته سفر وکړ.

ياد پلاوي د سفر او ليدنې په پيل کې د بغلان ولايت د مرافعه محکمې له محترم رئيس سره وکتل، وروسته يې د بنديانو ستونزو د څېړلو په موخه د ياد ولايت له مرکزي زندان څخه ليدنه وکړه، د ياد محبس اړوند د ټولو بنديانو بشپړ شهرت، کيفيت، شکايتونه، ستونزې يې له ځان سره وليکل او بيا يې له اړوند محاکمو سره شريک کړل.

د سترې محکمې د عالي مقام لخوا ټاکل شوي پلاوي د خپل کاري پلان له مخې د ياد ولايت د ولسواليو د ابتدائيه محاکمو، د ښاري او مرافعه محاکمو اړوند ديوانونو، د وثايقو آمريت، حقوقو مديريت او ځانګړې محکمې څخه په جلا جلا ډول ليدنه وکړه.

ياد پلاوي د څارنې بهير په ترڅ کې د يادو محاکمو له قضائي، اداري او مالي چارو هر اړخيزه پلټنه وکړه، د محاکمو د قضائي او اداري پرسونل د سلوکي او مسلکي اړخونو معلومات يې واخيستل او د چارو د سمون په برخه کې يې ورته لازمي لارښووني وکړې.

د قضائي تفتيش پلاوي د محاکمو اړوند شته ستونزې، کاري خنډونه او لوژستيکي نيمګړتياوې له ځان سره وليکل او د ليدنې په وروستيو کې يې د ستونزو د حل، خنډونو د له منځه وړلو، د شته نيمګړتياوو د اکمال په اړه د بغلان ولايت د مرافعه محکمې د رياست له مقام سره تفاهمي ناسته وکړه او ځينې ستونزې يې په جلا جلا توګه ورسره شريکې کړې.

ياد پلاوي د څارنې او ليدنې په دوام د ياد ولايت د والي له مرستيال، امنيه قوماندان او ولسواليو د مسؤولينو سره ناستې وکړې؛ د محاکمو د فعاليتونو د لا ښه پرمختګ او د ځينو اړونده ستونزو د حل په موخه يې د هغوی نظرونه واورېدل.

ياد پلاوي د بغلان ولايت د محاکمو په وړاندې د شته ستونزو دقيقه او هر اړخيزه څېړنه وکړه.

د قضائي تفتيش د څارنې او پلټنې پلاوي ياد له لاسته راوړنو ډک سفر د ۱۴۴۶ هـ ق کال د ربيع الثاني مياشتې په ۱۲ مه نېټه پای ته ورسېد.

## محترم مولوی ميرآقا به حيث رئيس جديد محکمۀ مرافعۀ ولايت پروان معرفی شد

محترم مولوی ميرآقا مشهور به (ذبيح الله خالد) به تاريخ ۱۲/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق طی نشستی به اشتراک رئيس شورای علماء، قوماندان امنيه، نمايندۀ استخبارات، قضات ديوان‌های مرافعه، شهری و محاکم ولسوالی‌ها، کارمندان اداری، خدماتی و پرسونل امنيتی رسماً به حيث رئيس جديد محکمۀ ولايت پروان معرفی گرديد.

جلسۀ معرفت با تلاوت چند آيات از کلام الله مجيد آغاز گرديد؛ سپس رئيس ديوان مدنی مرافعه، قوماندان امنيه، رئيس شورای علماء قدم رئيس جديد محکمۀ مرافعه را با برکت خوانده ابراز خوشی نمودند و وعدۀ هر نوع همکاری خويش را به محکمۀ مرافعه اظهار نمودند.

در ادامۀ جلسه محترم مفتی عبدالولی (حليم) رئيس ديوان جزای مرافعه و سرپرست قبلی رياست محکمۀ مرافعه فورم (پ ۲) محترم مولوی ذبيح الله (خالد) رئيس جديد را به خوانش گرفت و تشريف آوری آن را به حاضرين مجلس خير مقدم گفت.

در اخير جلسه رئيس جديد محکمۀ مرافعه پيرامون اهميت جايگاه قضاء صحبت نمود گفت که بالای ما لازم است تا در حل و فصل قضايا احکام شريعت اسلامی، اصول و مقررات امارت اسلامی را در نظرگرفته، عدالت را تأمين و اين مسؤوليت بزرگ را موافقانه انجام دهيم.

موصوف در ادامه از قضات، کارمندان اداری، خدماتی و نظامی محاکم ولايت پروان تقاضا نمود تا با يک ديگر همکاری همه جانبه نموده و در قسمت پابندی به حاضری نهايت کوشش نمايند، تا موجب سرگردانی مراجعين و اصحاب دعوی که از راه‌های دور و نزديک به محاکم مراجعه می‌نمايد؛ نگردد.

جلسۀ معرفت به دعا خير خاتمه يافت.

## د کابل ښاري ابتدائيه محکمې لخوا څلورو مجرمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د کابل ولايت مرافعه محکمې اړوند ښاري ابتدائيه محکمې څلورم زون جزا ديوان د پرېکړې په اساس په ۴/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه د دوو ښځو په ګډون څلورو کسانو ته د نامشروع اړيکو په جرم د محکمې په انګړ کې تعزيري سزا ورکړل شوه.

د ښاري ابتدائيه محکمې جزا ديوان د يادو مجرمينو له ډلې دوه تنه پر ۲ ـ ۲ کاله تنفيذي بند او ۳۰ـ ۳۰ دُرو تعزيري سزا او دوه نور مجرمين پر يو- يو کال او شپږ شپږ مياشتې تنفيذي بند او ۲۵ ـ ۲۵ دُرو تعزيري سزا محکوم کړي وو.

د محکمې دغه حکم د سترې محکمې د عالي مقام تر تائيد وروسته تطبيق شو.

## حکم جزای تعزيری بالا دو متهم در ولايت تخار تطبيق شد

به اساس فيصله محکمۀ ابتدائيه ولسوالی فرخار به شمول يک زن بالای دو تن که متهم بر زنا بودند؛ به تاريخ ۱۷/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق در محضر عام حکم جزای تعزيری تطبيق شد.

محکمۀ ابتدائيه متهمين مذکور را به ۳۹ ـ ۳۹ دُره جزای تعزيری محکوم کرده بودند؛ که اين حکم بعد از تائيد مقام عالی ستره محکمه بالای متهمين تطبيق شد.

## په لوګر ولايت کې دوو مجرمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د لوګر ولايت د خروار ولسوالۍ ابتدائيه محکمې په حکم د يوې ښځې په ګډون دووکسانو ته په ۱۴۴۶/۴/۱۳ هـ ق د نامشروع اړيکو په جرم تعزيري سزا ورکړل شوه.

د تعزيري سزا د تطبيق په موخه جوړه شوې غونډه کې چې د محاکمو او نورو امارتي ادارو مسؤولينو په کې ګډون درلود، د علماء کرامو لخوا د حدودو او تعزيراتو د تطبيق پر ګټور خبرې وشوې.

د خروار ولسوالۍ ابتدائيه محکمې د يادو کسانو له ډلې مجرم په څلور مياشتې تنفيذي بند او ۳۹ دُرو او مجرمه په څلور مياشتې تنفيذي بند او ۳۵ دُرو تعزيري سزا محکوم کړي وو.

د تعزيري سزا دغه حکم د سترې محکمې عالي مقام له تائيد وروسته پر مجرمينو تطبيق شو.

## د کابل ولايت ده سبز ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې لخوا څلورو مجرمينو او دوو متهمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د کابل ولايت ده سبز ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې د پرېکړې په اساس په ۱۳/ ۴/ ۱۴۴۶ هـ ق نېټه د يادې محکمې په انګړ کې د دوو ښځو په ګډون څلورو کسانو ته د نامشروع اړيکو په جرم او دوو کسانو ته د لواطت په تور تعزيري سزا ورکړل شوه.

ابتدائيه محکمې څلور مجرمين پر يوه- يوه کال تنفيذي بند او ۳۹ـ ۳۹ دُرو تعزيري سزا، دوه متهمين پر يوه- يوه کال او درې- درې مياشتې تنفيذي بند او ۳۹ ـ ۳۹ دُرو تعزيري سزا محکوم کړي وو.

ياد حکم د سترې محکمې د عالي مقام له تائيد وروسته پر مجرمينو او متهمينو تطبيق شو.

## په خوست ولايت کې دوو متهمينو ته تعزيري سزا ورکړل شوه

د خوست ولايت د تنيو ولسوالۍ د ابتدائيه محکمې د پرېکړې په اساس دووکسانو ته چې پر لواطت متهم وو؛ په ۱۲/ ۴/ ۱۴۴۶هـ ق نېټه په عام محضر کې تعزيري سزا ورکړل شوه.

ابتدائيه محکمې د متهمينو له ډلې يو متهم پر څلور کاله تنفيذي بند او ۳۰ دُرو تعزيري سزا او دويم متهم په درې کاله تنفيذي بند او ۳۰ دُرو تعزيري سزا محکوم کړی و؛ چې ياد حکم د سترې محکمې د عالي مقام له تائيد وروسته پر متهمينو تطبيق شو.

د تعزيري سزا د تطبيق په موخه جوړې شوې غونډه کې د مرافعه محکمې عمومي رئيس او مل پلاوي، د يادې ولسوالۍ قضائي، نظامي، اداري مسؤولينو او عامو هېوادوالو ګډون درلود.

میزان

د ليکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنيو، عامه اړيکو او مطبوعاتو رياست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټليفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱ ۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳